**SafeArrival**
Student Absence Management System
ocdsb.ca/SafeArrival

OTTAWA-CARLETON DISTRICT SCHOOL BOARD



**SafeArrival (خوندي راتګ) څه ته ویل کیږي؟**

SafeArrival د زده کونکو د غیرحاضرۍ اداره کولو دپاره یو نوی سیستم دی. کورنۍ کولی شي د موبایل ایپ، وېب پاڼي، یا وړیا ټلیفوني لیکي کارولو سره د غیر حاضرۍ خبرتیا ورکړي. دا اختیارونه په ورځ کې 24 ساعته، په اونۍ کې 7 ورځې شتون لري.

**موږ SafeArrival ولې کاروو؟**

- د زده کونکو خوندیتوب لوړوي.
- د کورنیو سره مرسته کوي ترڅو په آسانۍ سره د زده کونکو د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړي.
- د زده کوونکو ناتوضیح کړي غیرحاضریو ته په چټکۍ سره ځواب ویلو کې د ښوونځیو مرسته کوي.
- کورنیو ته په چټکۍ سره خبرتیاوې ورکوي.

**SafeArrival به څنګه کاروو؟**

تاسو کولی شئ د زده کوونکو د غیرحاضرۍ خبرتیا په دریو لارو ورکړئ:

*مهمه خبره: کله چې د ایپ/وېب پاڼي دپاره خپل اکاونټ جوړوئ، نو د بریښنالیک هغه پته کاروئ چې ستاسو د زده کونکي ښوونځی یې په خپل ریکارډ کې لري.*

1) **ایپ:** په خپل موبایل کې د SchoolMessenger ایپ انسټال کړئ یا د OCDSB ایپ له لارې دې ته لاسرسی ومومئ. دغه ایپ خلاص کړئ او د نوم لیکني دپاره *Sign Up* انتخاب کړئ. د نوم لیکني وروستو، د مینیو څخه *Attendance* انتخاب کړئ، بیا *دغیرحاضرۍ خبرتیا ورکړئ* او په لارښوونو عمل وکړئ.
2) **وېبپاڼه:** go.schoolmessenger.ca وګورئ. د خپل اکاونټ جوړولو دپاره *Sign Up* انتخاب کړئ. د نوم لیکني وروستو، د مینیو څخه *Attendance* انتخاب کړئ، بیا د *غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړئ* او په لارښوونو عمل وکړئ.
3) **وړیا ټلیفوني شمېره:** 1-833-202-1417 وړیا لیکي ته زنګ ووهئ ترڅو د خپلکاره ټلیفوني سیستم کارولو سره د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړئ او په لارښوونو عمل وکړئ.

**ګټور مالومات:**

- که زده کونکی ناوخته راځي، نو Full Day انتخاب کړئ او بیا Late انتخاب کړئ. هغه ټول زده کوونکي چې ناوخته راځي د بشپړې ورځې دپاره غیرحاضر ټاکل کېږي تر هغې چې راشي او د ښوونځي د دفتر له لارې نوم لیکنه وکړي.
- د لومړنیو او منځنیو ښوونځیو دپاره د ورته ورځې غیرحاضرۍ یوازې د ښوونځي د پیل د وخت څخه تر 30 دقیقو پورې راپور کېدی شي. له دغې وروستو مهرباني وکړئ نېغ په نېغه ښوونځي ته زنګ ووهئ.
- د دویمو ښوونځیو دپاره د ورته ورځې غیرحاضرۍ د مازیګر تر 6:00 بجو پورې راپور کېدی شي.
- د هرې ورځې غیرحاضریاني د ښوونځي په کیلنډر کې دمخه راپور کېدی شي.
- که یو زده کوونکی غیرحاضر وټاکل شي او د غیرحاضرۍ خبرتیا دمخه نه وي ورکړل شوې، نو زموږ د SchoolMessenger سیستم به ستاسو سره څو ځله د اړیکي نیولو هڅه وکړي څو تاسو دغه غیرحاضري تایید او توضیح کړئ. که ټاکل شوې شمېرې سره اړیکه نه نیول کېږي، نو د ښوونځي کارمندان به یې غم وکړي. د دې خبرتیاو د مخنیوي دپاره، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم د غیرحاضرۍ خبرتیا دمخه ورکوئ.
- مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ښوونځی تل ستاسو د اړیکي اوسني مالومات ولري څو خبرتیا سم پلار او مور/ساتونکي ته ولېږل شي.